عبدالغفور لیوال

۲۰۲۰/۱۱/۲۸

# د رحمان بابا د یوه بیت

## تفسیر او شننه

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان رابانديږ راشي که بهار

یو شمېر خلکو د رحمان بابا له دغه بیت څخه د لټی(عطالت)، جمود، سکون، ځای پرځای پاتېدا او بې هڅې و زیاره ژوند تېرولو مانا اخیستې ده، حال دا چې دا بیت د دې ټولو پرخلاف د خوځندوالي، ودې، پرمختګ، ښکلا، هڅې و زیار، ګټورتیا او تولید ماناوې ښندي .

زما یوه دوست، ولسي مخور او د ادبیاتو مینه وال وکیل صاحب نادرخان کټوازي هم د بیت اصلي مانا او د ځینو خلکو سرسري مانااخیستنې حیران کړی او داسې پوښتنه یې کړې وه:

"درحمان بابا دغزل دغه بیت په شک کې اچولی یم:

لکه ونـه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان را باندي راشي که بهار

یاني انسان باید له وخت او حالاتو سره هیڅ تغیر ونکړي که څنګه؟"

ما له درانه کټوازي صاحب سره ژمنه وکړه، چې د دې بیت تفسیر به لیکم. دا کرښې همدغې ژمنې ته د وفا کولو هڅه ده .

رحمان بابا په خپل دغه بیت کې د شاعر (زه)، چې په ادبي سنت کې د انسان او انساني ټولنې استازولي کوي، له ونې سره تشبیه کړې دی. دا تشبیه خورا په زړه پورې ده، ځکه (ونه) د ژوند، ودې، ګټورتیا، ثمر، تولید او ښکلا لپاره د ګڼو تداعي ګانو خاونده سیمبولیکه مفهومي ټولګه ده .

د ونې لومړی ماهیت (ژوند) دی. رحمان بابا که یوازې ځای پرځای پاتېدا او جمود و سکون د انسان لپاره غوره ګڼلای نو باید ویلي یې وای:

لکه غر تل مستقیم پر خپل مکان یم
که خـزان رابـانـديږ راشي کـه بـهار

څه فکر کوئ، د تشبیه د یادو وجهو لپاره تر ونې غر هم کلک، ولاړ، ساکن، مقاوم او ستر نه دی؟ دی.
خو غر ژوند نه لري. رحمان بابا د ژوند شاعر دی او له ونې سره د (زه) په تشبیه کولو کې د (ژوند) ماهیت او اصل ته پام کوي .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ونه د (وني) په ماهيت کې مطرح ده، چې اول يو کوشنی زړی وي، په خاورو کې رازرغون شي. هوا، لمروړانګې، خواړه او اوبه پروسس کړي، وده وکړي، لښته شي، بيا څانګې وکړي او نيالګی شي، روسته ځوانه شي او بيا ګوره او سمسوره ونه تړې جوړه شي .

دلته د وني دوهم ماهيت وينو، چې هغه (وده) ده. انسان بايد وده وکړي. ستر شي. خپل ماهيت په خپله وټاکي، چې يوازې سيوری کوي؟ ايکولوژۍ ته ګټه رسوي، ښکلا ښندي، که ميوه – دانه هم توليدوي؟
د (وني) درېيم ماهيت ګټورتيا ده. د ګټورتيا Utilitarianismد فيلوسوفي لوی مفکر جان سټوارټ مېل (John Stuart Mill)ويل : "د انسان لپاره تر دې لويه خوښي بله نه شته، که پوه شي، د داسې ځواک خاوند دی، چې ګټه يې نورو ته رسېدلای شي" .

رحمان بابا د همداسې يوه باور له مخې (زه) يا انسان له وني سره تشبيه کړی دی. ونه د اُکسيجن د توليد او سمسورتيا له برکته ايکولوژيکه ګټه لري، ښکلا يې اېستېتيکه ګټه ده، سيوری او ميوه يې هم توليدي ګټه. که د بيولوژۍ او طبيعت پوهنې له اړخه يې وڅېړو ګڼې نورې ګټې هم لري. زموږ عارف شاعر غواړي ووايي، چې انسان بايد د وني په شان ګټور وي .

د وني بل ماهيت (استقامت) دی .لکه ونه (مستقيم) په خپل مکان يم. ونه د خپل ذات ( ونه توب = درخت بودن) په وجودي پېژاند کې دننه استقامت لري. يعني د ټولو طبيعي ستونزو په وړاندې مقاومت کوي، خو خپله وده، ګټورتيا او ژوند ته دوام ورکوي. ونه له خپل وجودي ماهيت بهر په بل څه نه شي بدلېدلای نه شي. يعني نه ښاروي غوندې پر لار تللی شي، نه مارغه غوندې الوتلای او نه هم کب غوندې لمبلی شي. ونه ونه ده. انسان هم د خپل انساني هويت په دننه کې خپل وجودي ماهيت ټاکي، چې ګټور او ښه انسان وي، که شرير او مضر. خو انسان له ځان څخه کربوړی يا اوښ جوړولای نه شي. د انسان وده، هڅه، زيار، پرمختګ په دې پورې اړه لري، چې ښه او ګټور (انسان ) شي، نه کوم ځواکمن اوښ يا ښکلی تاووس. د جبر او اختيار د اوږدې ديالېکتيکي شخړې او ټکر يو سېنتېز هم دا دی، چې انسان د خپل وجودي – حضوري هويت په دننه کې خپلواک او مختار دی. انسان د انسان په توګه د خپل ماهيت په ټاکنه مسئول دی او بس .

ونه په زمکه کې ريښې کوي، همدا ريښې يې د استقامت او ولاړتيا تضمين کوي. انسان هم دغسې ريښو ته اړ دی. دا ريښې د (مانا)، (باور) او (هيلو) ريښې دي. انسان کله چې يوه بشپړ باور ته ورسېد، نو بايد پرې ټينګ شي. هيلې او باور د انسان د ژوند د تداوم ريښې دي او که نه د ژوند پوچې، بې مانا توب، نهيلي او تياره لرليد د مرګ لومړی منزل وګڼه، بيا خو انسان د ژوندي پاتېدا لپاره هيڅ دليل نه لري.

له دې اړخه هم د رحمان بابا تشبيه خورا نادره او ښکلې ده .

رحما بابا ولې داسې نه دي فرمايلي؟

لکه ونه مستقيم په خپل مکان يم
که توپان راباندې راشي که برېښنا

برېښنا (صاعقه) وني سيزي او توپان يې له ريښو راباسي. که وني ته ګواښ پېښېږي، نو له دې څېزونو پېښېږي، خزان و بهار خو يې د ژوند دوه داسې پړاوونه دي، چې ونه يې له برکته خپل ژوند نوی کوي. رحمان بابا بل فکر لري او هغه دا چې انسان بايد له هر بهار سره نوی شي، لا پسې وده وکړي بيا بيا ثمر او توليد ته ځان چمتو کړي ، زړې او ورستې پاڼې ورژوي او نوې پاڼې راشنې کړي. د وخت له تېرېدو سره خپله ښکلا تازه کړي، نوې نوې غوټۍ وسپړي، نوې ګلان وغوړوي او خپلې زړې (پاڼې) د وخت له زړو بادونو سره هېرې کړي. د منې سختې په دې هيله وزغمي، چې نوی پسرلی به راځي او ونه يا د شاعر (زه ) به يو نوی، ښکلی او ګټور ژوند پيلوي .
د دې ټولو دلايلو له مخې د ياد بيت اصلي مانا دا ده، چې انسان بايد د خپل وجودي اختيار په دننه کې هڅه، هيله، مانا، وده، ښکلا، ګټورتيا، توليد، نوې کېدل، مثبت بدلون، بيا بيا راپاڅېدل، زغم، ريښه يې باور او ولاړتيا ولري، چې ايله د دې ټولو صفتونو تر راخپلولو روسته د ريښتيني او ښکلي (ژوند) خاوند و ګڼل شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ